## د د هجرت ورځې

درنو لوستونکو په ۱۳۵۹ کال کې چې کله څو کسو وحشي تالانګرو انسانانو زموږ کور تالاوالا کړ او زما د پلار تېوله فرهنګي هستي يې له منځه يوړه زما عمر داتو کلونو نه زيات نه و او د شعر په مفهوم نه پوهيدم چې شعر څهډول صنعت دی څنګه ليکل کيږي ؟او څنګه منځ ته راځي؟خوله نوموړي حادثې وروسته ماته دا احساس را پيدا شو چې زه بايد د خپل پلار ورک شوي آثار ولټوم او له ځان سره يې خوندي کړم خو له بده مرغه مور مې ددې کار سخت مخالفت کاوه او تل به يې راته ويل چې ته دا سپېره کاغذونه څه کوې پلار دي ترې څه خير ويوړ چې ته به يې ترې يوسې. خو دا کار زما په وس نه و چې د مور خبره و منم او د هغې په اند له دې سپيره کاره لاس واخلم. مابه چې کله د خپل پلار کوم شعر پيدا کړ ډيربه خوشحاله شوم او هغه به مې ژر ژر خپله کتابچه کې وليکه. يو عام متل دی چې وايي: (خربوزه ازخربوزه رنګ ميګيرد ) يعني خټکی له خټکي رنګ اخلي نوماهم په داسې حال کې چې ځانته مې پام نه و له خټکي رنګ اخيستی وو او دا څو کربښې شعرونه مې ليکلې چې اوس يې ديوې کوچنی مجموعې په بڼه تاسو هيوادوالو ته ډالۍ کوم

Ketabton.com

په درناوي عرفات (پرديس) کندز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شکوه

زه دې ځنګه خوار او زار کړم ستره خدایه
شرمــنده دې په بار بار کړم ستره خدایه
د دنـــیا په کشمکش کې دې راګیر کـړم
لـه طاعـــته دې کـنار کـړم ستره خدایه
جـنـتونه دې راوبــــښل اول کـــښې
بـیا دې ولې تـرې فـرار کړم ستره خدایـه
د شیـطان دښـــمني تا راتـه پـــیدا کـړه
اوس به ځنګه تـرې قرار کړم ستره خدایـه
چې د عـقل را کـاوه شـهوت مې څه کړه
زه خـــو دغې بلا خـوار کړم ستره خدایـه
نه مـــې دا دنـــیا شــوه خپـــله نه آبلـه
اوس به چــېرتـه کډه بار کـړم ستره خدایـه
چــې دې عـلــم حقـیقي راتـه څرګـــند کړ
بیا دې پـوه په دې اسرار کړم ستره خدایـه
دغـه ټـولــې برنامــې ړومـــبی دي جـوړې
زه (پردېس) به څه اختیار کړم ســتره خدایـه
١١٣٨٠١۴١٢ ایران شیراز

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې

سترګوته راغلي زما بيا اوښکې
تر ته څاڅي په نڅا اوښکې
عقل و هوس مې کله غلی پرېږدي
په مخ مې دروميې بې بها اوښکې
دغه د څو ورځو دنيا غم ده
ليدلي چا دي د خندا اوښکې
آدم خسران کړی جنت پرېږدي
په اننګوځي د هوا اوښکې
د وخت سيلاب سره يو ځای راځي
د نن فرعون ته د موسی اوښکې
چې د [عمر] زړګی يې پريمينځه
څه پر اثر وې آ، شهلا اوښکې
قيس به ناصيح ته په سلګو کې ويل
هبرې به نه کړم د ليلا اوښکې
د عشق مجنون يم نصيحت مه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته په کــارنه دي د چـــا اوښکې
ای د ســــتم بازاره وران به شــې
تــندر طوفان به شـــي زما اوښکې
۱۳۸۳\۷\۱۲ کوئته پاکستان

د شهیدانو یاد
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
تنکي ځوانان لکه ګلونه لاړه
دځوانیمرګ(صادق)پهیادژاړم روح یې په هغه
دنیاښادغواړم
نه یې کفن نه یې لحدولیده ه نه یې
یارانوچاجسدولیده
دمرګ یې هره خواخبرونه لاړه
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
ښکل ځواني د(ایمل جان)یادوم
سترمجاهدمردمیدان یادوم
په خپلووینوي جنت وګاټه ه ټینګ ایمان یې شهادت
وګاټه
تورتم شو پاتې مشالونه لاړه
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
د(میرویس) جان غم ناتوانه کړمه
داشو شهید زه یې پرېشانه کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به له چاسره دردونه ژاړم
دارانه لاړ زه یې غمونه ژړام
باغ مې سپېره شو چې ګلونه لاړه
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
د(عطاالله) ځواني شوه خاورې خدایه
نارې سورې مې ولې ناورې خدایه
دغه شهید مې ډیر یادیږي ربه
زړګی مې ولې نه صبریږي ربه
وینې جیحون شوې سیلابونه لاړه
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
ای عزیزانو شهیدانو واورئ
ای د(پردېس )دبڼ ګلانو واورئ
مبارکي د شهادت درکُوم
ثابت قدم یو بشارت درکُوم
ایمان مو کلک دی خوو ختونه لاړه
ارمان ارمان ښکلي یادونه لاړه
تنکي ځوانان لکه ګلونه لاړه
۱۳۸۰-۵-۲۲-ایران د بوشهرښار

یادونه !محمدصادق *ایمل*میرویس*اوعطاالله زما ورونه وو چې په دغه خونړي انقلاب کې په شهادت ورسیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سوری سوری مې شو ټټر ظالمه
زما سینه شوه ستا خنجر ظالمه
په څه ګناه مې قتلګاه ته بیایې
راته دې مات کړه بال او پر ظالمه
مه کړه ستم چې ښه انجام نه لري
حال د (لهب) نه شه خبر ظالمه
چې یې اسمان سره جنګونه کول
څه شو (فرعون) ای بې خبر ظالمه
هرې تیارې پسې رڼا راځینه
دا تورماښام به شي سهر ظالمه
عذاب دې واخیست شهادت دې راکړ
له حقیقته یې منکر ظالمه
وایي (پردېس) له مرګه ډار نه راځي
په خپل ایمان لرم باور ظالمه
۱۳۸۰-۱-۲-شیراز

## غزل

له وطنه چې مې لیرې کناره یم
زه افغان مشغول د چا په ننداره یم
د ژوندیو په حساب راځمه دریغه
شینکي بڼ کې هسې وچه شجره یم
په بهار کې زیړه پاڼه د خزان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملزم شوی د نفاق په فقره یم
د لوی خدای له سلطنته صدقه شم
هسې نیست یې د هستیو په قاره یم
په رضاء یې تورې خاورې سره زرکیږي
زه آدم یې د خُلقت ښه مانوره یم
ای (پردېسه) دا لیکني په چا لولې
د ادب آسمان کې ورکه ستاره یم
۱۳۷۱\۳\۲۱ ازبکستان بخارا

دګیدړې او شغال مرکه

د هجرت ورځې او شپې وې تیریدلې
د وطن په حال مې هرځای کې ژړلې
یوه ورځې له ډیر غمه را بهر شوم
د وطن خوا ته روان مخ په چکر شوم
چې په لاره کې راپېښ عجیبه حال شو
په نظر مې یوه ګیدړه بل شغال شو
مرکه وه دګیدړې او شغال
چې ګیدړې له شغاله وکړ سوال
ای شغاله یاره ولې نه ښکاریږي
چې له ډیره عمره پس رامعلومیږي
شغال جینګې کړلې داړې په خنداشو
مخ یې واړاوه ګیدړې ته ګویاشو
ویلې خیته مې مړه ده کړم سیلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنا یانو ته مې نه رسي لاسونه
افغانان په ځان اخته دي کړي مرګونه
خوږې غوښې رارسیږي کړم عیشونه
لس او شل مړي پراته په هر میدان دي
پرې راټول زما په شان ډېر شغلان دي
چې خبره شوه ګیدړه له دې غوښو
وارخطا شوه لاس یې ژرکېښود په تشو
ویلې ژرشه ګرانه زمابرخه دي څه کړه
غوښه پاتې ده که ټوله دي په خوله کړه
شغال ویلې ډیرې غوښې پیدا کیږي
بې بها د هر افغان وینې تویږي
دګیدړې خوښې زیاته شوه بېشانه
له شغاله سره ګډه شوه روانه
چې مې ولیده په سترګو دغه حال
د ګیدړې له شغال سره مقال
ماویل دادی اوس مو غوښې ګیدړان خوري
شغالان راپاڅیدلي دي زمریان خوري
اي (پردېسه) بل څه نشته بې علمي ده
چې په برخه مود اهسې بدبختي ده
۱۳۷۸-۲-۲-پشاور- پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل سرګردانه ژوندته یوه کتنه

دغه ژوند به مې په کومه ورځ ختــمیږي
زه شوم سترړی خود امست رامعـــلومیږي
ځوبه ګرځم دربــه درپــه غـرو، رغــونــو
زما به مینه په وطـن کـــلــه مـــاتـیـــږي
چې دځو کړم دافغان پـه پـــاکه خــــاوره
اوس مې ځکه دکندز ځـمـــکه یـــادیـږي
ماشوم توب کې له خپل کـوره اواره شـــوم
دهجرت اوښکې مې تل په مخ بـــهیـــږي
پاکستان راته پــــه زړه ایښي داغـــونـــه
پسته وضعه مې دبعضو نه هېـــریــــږي
د دنیا دمخ جـنت مې مســـــخــــر کـــــړ
له کشمیره به مې کـلــه زړه صـبــریـــږي
هندوستان کې دې دځوور ځومـیلمه کـړم
تاج محل مې تل پـــه زړه بـانـدې وریږي
دتــاجــک ازبـــک تـــرکــمــن ملکوته لاړم
تش په نوم مسلمانان پـــکښې اوسیـــږي
د قطر بحرین شیخان چې راپـــه زړه کــړم
د ادنیارابـانـدې تــولــه راغــمـــیـــږي
میاشتې میاشتې د،اروپاغیږکې ویده شــوم
اوس مې کله په ایران کـــې چـاره کـیـــږي
دې ستومانه ژوند پرېشانه کـړې (پـردېـسـه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عاقبت به کومه خاوره کې ښخېږي

-۱۳۸۰-۵-۲۲ ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توشیح غزل

سیاحت د دې دنیا به ټول عالم کا
زیروحان به دا مسیر قدم کا
عاقلان یې په کیسه کې دومره نه دي
جاهلان یې بیا په مینه کې ستم کا
د دنیا مینه دنیا سره فاني ده
د فنا سره به څه مینه آدم کا
اسیر شوی ښکلی روح خاورین بدن کې
که آزاد شي تا به خاورو کې مدغم کا
له دنیا نه د وفا طلب ونه کړې
فضیلت به دي اشرافو کې را کم کا
د غافل زړګي نه توره تیره ښه ده
زړه هغه دی چې صفت د خپل صنم کا
یاري نه لري دښمن د جامعې دی
چې په حق باندې د بل مدام قسم کا
نظارت د دې دنیا بصیرت غواړي
د رندو سره چمونه چم په چم کا
شرارت د شرفاؤ محصول نه دی
خو اشرار به دې زړګی قلم قلم کا
په صورت او په دولت یې اورکړه پورې
هغه څوک چې له مردارو ډک شکم کا
وفا نه لري دنیا شرمنده ګي ده
عاشقان د خپل سیرت به ټول عدم کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیابت د فاسقانو ، ای (پردېسه)
په عالم به دې رسوا لکه اشرم کا
۱۳۷۹-۱۲-۵-ترکمنستان عشق اباد بازارمیر
نوټ* د چا چې پوزه غوڅه وي اشرم یې بولي افغان(قاموس)
له پورتنۍ توشیح څخه دښاغلې سعدالدین (شپوږ) نوم راوځي

روژه

په تا کې ډیر برکتونه وینم
تا کې فجار تمام جنګونه وینم
طبې دنیا ته چې نظر واچوم
شِفا درمان دې ټول حکمونه وینم
منافقان مناقشې درکې کړي
ستا په حضور کې غور ځنګونه وینم
که د ضعیف ایمان غندنه کُوم
په کال کې یوه میاشت یې مونځونه وینم
وسه مې نشته چې غزا جوړه کړم
په سره غرمه چې بار دیګونه وینم
زموږ د صلحې پیغمبرې را شه
ټوټې ټوټې مسلم قشرونه وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي (پردېس) ډېر ناقرار یم ځکه
چې نوي نوي مذهبونه وینم
۱۳۷۴\۱۱\۷\کندز

## غزل

درومې درومې دا وګړي له دنیا
دریغه دریغه دا ژوندون دی بې وفا
ښکلي ښکلي انسانان دي خاورې شوي
هم آدم دې خاورې شوی هم هوا
له مرګ نه خلاصی نشته په دنیا کې
چا لیدلي رومبني نسلونه بیا
اول خاورې اخر خاورې زیروحان دي
دغه ژوند خو میراثي نه دی د چا
د دنیا په مینه مه وژنۍ ځانونه
دا ویلي رسولانو لاپخوا
۱۳۷۴\۱۲\۵\کندز

## نعت شریف

چې سبب د پیدایښ د دې مکان دی
محمد راته د سر او مال نه ګران دی
چې په روی یې د ادنیا ده پیدا شوې
محمد لویه هستي عظیم انسان دی
سر او مال مې صدقه دده له نامه
چې یې ایښی دغه نوم خپله په ځان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼايې وه په تيارو کې ګرځيدله
په تدريج يې رڼا کړی دا جهان دی
په دعوت يې معرفت سره اشنا کړو
راليږلی ستر هادي زمونږ سبحان دی
۱۳۸۱\۲\۳قطر

زما شجره

پلارمې ايښی نوم زما دی عرفات
چې دا نوم راته شيرين دی ترنبات
په اشعارو کې پردېس لرم لقب
دا لقب مې دی له پلاره منتخب
زما پلار چې په پردېس وومسما
د پردېس نوم به ځليږي په سما
د پښتو ژبې اديب روان شاعر وو
د وطن په مينه تيرله مال و سر وو
د ملت په غم کې لاړو قرباني شو
د فنا نړۍ يې پريښوه اسماني شو
د شهيد والد په نوم ډير افتخار کړم
کتابونه به يې طبعه له اشعار کړم
خپله نشته ډير اشعار يې پاتې شوي
چې د زړه په وينو ټول دي انشاء شوي
لکه څنګه چې مې پلار عظيم انسان وو
پلار يې هم مرد ميدان باتور افغان وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسما په سعدالدین هغه نامداروو
د همت غیرت په نره خریدار وو
د قرآن یې ترکه نه وه وظیفه
د مظلوم خیال یې ساتلو همیشه
د ده پلار و هم تېر شوی ډیر نامدار
په نامه د معزالدین هغه رویدا ر
د وطن دفاع کې سریې خپل بایللی
په تاریخ کې یې ځلانده نوم ګټلی
په ادب باندې لګیا یم دا ګفتار کړم
د شهید نیکه په نوم ډیر افتخار کړم
معزالدین وو بیا پیدا له سیدګل
چې د علم په بوستا ن کې وو بلبل
غټ عالم لوی نابغه د خپل زمان وو
لراو بر ټول ننګرهار یې مدحه خوان وو
سیدګل بیا له یعقوب ځني پیداوو
چې یعقوب هم د خپل وخت عظیم ملاوو
د یعقوب پلارو اسحاق اخندزاده
چې ورکړې وه خدای لویه مرتبه
پشت په پشت راکې تېر شوي عالمان
کور د علم دی زموږ ټول خاندان
ای ( پردېسه ) فلک ګرځي سرچپه
ته له هیچانه اوس مه کوه ګیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټان ټيټ شوه ټيټ غټان شوه په جهان
د بازانو په ځای کينا سته کارغان
خو بيا هم بازان بازان کارغان کارغان دي
په کارغانو د مرځو نيول ګران دي
چې وخت راشي د ازميښت او امتحان
ته به اوګورې بيا هلته داکسان
که د پلار نيکه نه، نه وي معلومدار
په دښمن باندې به ونکړي ګذار
ځاروي به له وطنه څوک سرونه
چې معلوم يې وي د پلار نيکه نومونه
۱۳۷۵\۱۱\۱۲\

يادونه ! دا پورتنی شجره(۹ ) بيته ماليکلې ځکه چې دغه شجره زما پلار زموږ د نيکه حاجي سعدالدين له پيژندګلو نه پيل کړې وه خوما په لومړيو څو بيتونو کې د ځان او د خپل پلار زين العابدين پردېس شجره ور زياته کړه او پاتي نوره(۱۵ ) بيته زما شهيد پلار زين العابدين پردېس ليکلې او ويلې
عرفات پرديس

که زه پښتون يم

قسم زما په شهيدانو قسم
په کُنډو بورو مظلومانو قسم
زه نور په تنګ يمه په جنګ به شم
څپاند درياب يم په غورځنګ به شم
بيا هغه څوک دی چې حصار به کړي ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېګۍ د ام کې ګرفتار به کړي ما
زه په هيچا کې دا طاقت نه وينم
خاص په غليم کې دا جرعت نه وينم
چې مې ملي نهضت خفه کړي راته
قومي وحدت مو بابيزه کړي راته
په افغانانو به غوبل نه وي تل
اور به زما په کاله بل نه وي تل
په غمازانو جوړ ناتار به کړم
جوړ دا ولس عزت وقار به کړم
سفر به ټولو پښتنو کې وکړم
ناري به برو څمکنو کې وکړم
ډير افريدي به له خيبر روالم
له افغانانو به لښکر راولم
ساز پرې آزاد افغانستان به کړم
پوره د قوم ملي ارمان به کړم
د تورې نقش به جاويدان پرېږدم
تاريخ ځلاند به د خپل ځان پرېږدم
نه خوف د مرګ نه د زندان لرم
يمه پښتون قوي ايمان لرم
د ظالم سترګې به په زور وکاږم
هريو غاصب به له خپل کورو کاږم
زه دا په ډاګه هر سړي ته وايم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې وطن هر ګوړا ګي ته وايم
( پردېسه ) شم به په وطن فدا
که زه پښتون يم په دنيا رښتيا
۱۳۷۵\۱۰\۱۳\کوئټه  پاکستان

غزل

خپل وطن کې چې مې کورراته سقر شي
بل وطن کې به مې کله حال بهتر شي
طوفانو نو د ګناه جيحون ته و يوړم
ستا به کله ياره زما په حال نظر شي
نيابت د احمقانو به تر څو کړم
ده بهتره چې مې ټول دژوند ټغر شي
دا د څو ورځو دنيا ده زود ګذره
زيروحان به ټول د مرګ ګوتو ته ورشي
د دنيا هستي هستي نه ده نيستي ده
څوک يې څه کړي په ضرر که يې خبر شي
د دنيا خوبانو ټولو راته شا کړه
زه پرې خوښ يم که راضي زما دلبر شي
ټول د مهر آبادي ده ظلمت نشته
که زما د زړه په کلي ستا ګذر شي
دا د ماتو زړو آوازدی ( پردېس )وايي
عاقبت به دغه توره شپه سهر شي
۱۳۸۲\۵\۲۰\کندز     چاردره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرواز

ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
ورشه په ټولو دنیا والو سلامونه کوه
زما دژوند قیصې خورې په ټول جهان کړه ته
په دې دنیا کې پرې خبر هریو انسان کړه ته
ګرځه د مینې په فضاء کې خپل سیلونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
ورځه خبر راته د ټولو هیواد والو راوړه
ماته احوال د خپلو ورکو افغانانو راوړه
چې چیرته اوسي دې جهان کې بیا نکلونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
لاړشه د مینې له دنیا نه پیغامونه راوړه
د تیارو ښار ته ښه ځلانده مشالونه راوړه
د تورو شپو نه د سهار په لورمزلونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
تورې بلا ته د نفاق سخت ګذارونه ورکړه
بلاه د جهل په سر ووهه وارونه ورکړه
د رڼا کور کې د ظلمت په سرتاختونه کوه
ای زما د خیال پروازه پروازونه کوه
ځه د(پردېس )په وزرووالوزه دنیا وګوره
دې خوارملت ته یوه نوي مسیحا وګوره
د زخمي زړو سره دنوي ژوند رازونه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای زما د خیال پـروازه پروازونه کـوه
۱۳۸۲\۸\۱۲\کندز

# دوطن ګیله

زه خو ستا وطن یم ته مې ولـې ورانه یې
کور یم د غازیانو ای بدبخته څه که یې
زما غبږ کې پیدا شوې
سبب مې د ژړا شـوې
څومره ژر خطا شوې
د خلکـو د خنـدا شوې
مور دې یم نا اهله ولې سترګې پـــټه یې
زه خو ستا وطن یم ته مې ولې ورانه یې
په سرو سترګو ژړیږم
لیلام ته وړاندې کیږم
کــړیـــږمـــه زور یـږم
په سرو وینو لــمبیږم
دغه ستا غیرت دی چې په بل مې خرڅه یې
زه خو ستا وطن یم ته مې ولـــــې ورانه یې
تېر له خپل عزته یې
ډک له کدورته یې
لرې له عظمته یې
ډېر بې بصیرته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل وطن مالونه چې په خپله غلا ،که يې
زه خو ستا وطن يم ته مې ولـــې ورانه يې
لرمه نور بـچـي زه
(پردېسه) ميړني زه
د مينې لـيـوني زه
ايرو کې ډېر غمي زه
آخر به دې مخ تور کړي چې پرما لوبې که يې
زه خو ستا وطن يم ته مې ولـــــې ورانه يې

۱۳۷۵\۱۱\۵\کوئټه پاکستان

توشيح غزل
ډکه ونـه د ثـمـر يـې بـريـده کړه
اجيرانو د نفـاق اور کـې لـمبه کـړه
کرارنه دي دښمنان د يکـتـاهـانـو
تاريکې يې د رڼا د تن جامـه کړه
راکبين مې په پياده وکې مدغم شوه
غاصبانو رانه غـصب آشيـانه کړه
لالهاند ګرځمه اوس په غرورغونو
اشقيانو راتـه جوړه دسيـسه کـړه
ميراث لاړه د نيکه خاورې ايرې شو
قاريعينو راته سرد غم نغـمـه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسارت دی بنده ګي ده غلامي ده
د نفاق بلاه مې مېنه راسپيره کړه
رحم نشته څه ظالمه زمانه شوه
خار د ګلو په مقر سخته قبضه کړه
اعراض نه کوم له مرګه ای( پردېسه )
نابکارو مې تالا د ژوند توښه کړه
۱۳۷۸\۵\۱۴\ پاکستان پشاور
نوټ. د پورتنۍ توشيح نه دډاکټر صاحب غلام قادر خان نوم راوځي

توشيح غزل

عـاقــلانـو دي ويـلـــي
صالـحـانـــو دي مـنـلـي
راحت نـشته بــې زحـمتــه
په قـرآن کې دي راغــلــي
فـاسقـان په نـيـکـــه لاره
دې جهان کې چا ليدلـــي
اثقـالـونـه په دنـيـا کـــې
رســـولانـــو چـلـــولـــي
تاخير مه کړئ په نيکۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیک نـامان دي ډیر ښاغلي
په ناسـمه لار چې درومـې
دې نــړۍ کې شـرمیدلي
رنګ یې ګوره حال یې پوښته
چا خنـدلـي چـا ژړلـي
درپــه در افغـانان ګـوره
پــردي ورتـه دریـدلــي
یاران لاړ وطن یې پرېښود
راته پاتې خالي کـلـي
سرې لمبې راباندې بلې
بې علمی دي لګـولـي
۱۳۷۵\۹\۱۵\کوئټه پاکستان
نوټ د پورتنۍ توشیح نه زما خپل نوم راوځي
عرفات پردېس

غزل

اوګوره زړګیه دا دې څه چارې منلي دي
څنګه یې په سترګو کې اغزي راته کرلي دي
څه مې ده ګناه څه مې خطـا ده ګله ووایـه
اغیار چې په وحشت سره زما غوښې شکلولي دي
سپینې جامې رنګ شوې په سرووینو کې یې ولامبل
لاړې ښکلې هیلې سور کفن کې خوځیدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچول اورونه شنو باغوته غمازانو نن
اوس يې لوغړن لرګي زما سرته نيولي دي
وليکه( پردېسه ) دا د وخت نا خوالې وليکه
هغه څه انشاء کړه چې په ستر ګودي ليدلي دي
پاکستان پشاور ۱۳۷۸\۳\۱۷

پند

د دنيا له مصيبته
د دولت له قرابته
ځلبلاند ګوره وګړي
دخصلت له مشقته
پـه غوړېواورئ دا خبـرې
خالي نه دي لـه حکمته
هغه خلک معقول نه دي
چې لري دا څو صفته
په تلبيس کـه ملبس دي
دي منکر له حقيقته
چې غړېږي او خنـد يـږي
نه يې سود شته نه يې ګټه
کـه خندا د لوړ آواز ده
ده خارجه لـه سنته
د الله فرمان قبول کړې
درته کړم څو نصيحته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آدم نـافــرمـانـــي وه
چې يې وويست له جنته
عيب د بل چا ته مه وايه
دا ګـنـاه ده ډيــره غــټـه
زه ( پردېس ) دغه وينا کړم
د خلـيـل بـاتـور مـلـتـه
۱۳۷۲\۳\۱۷\کوئټه
نوټ تلبيس د حقيقت پټولو ته وايي

غزل

ما خو تل په مينه خپل استازي درليږلي دي
تايې د حسد غـشـي پـه سـر راورلـي دي
بس کړه نور د تورو پرد شاتـه قتال مه کوه
راشه په ښکاره مې خپلې وينې دربښلي دي
نه ده ستا ګناه دغه زموږ ازلي برخه وه
ګوره غليمان موددوستی په نيت راغلي دي
مه مايوسه کيږه د تـوبو سره بدلون راځي
ما په ستر قرآن کې عجايب شيان ليدلي دي
واوره دا غزل( پردېسه ) څه ښکلی مضمون لري
څنګه يې په مينه دوحشت جامې څيرلي دي
۱۳۷۴\۱۲\۲\

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا د لاسه ای نفاقه نور ورکیږم
جهالت ستره ګناه ده پرې پوهیږم
ټوله خاوره د افغان وینو کې سره شوه
زه عبس په دغه سیمه کې اوسیږم
دغه خیال مې څه مهال د زړه کور به شو
د وروړ مرګ ته چې مې هسې هوسیږم
ډیر د علم په زور لاړه تر آسمانه
زه د جنګ له مصیبته نه خلاصیږم
په وطن جوړه تالا کړه تالانګرو
سره اورونه دې بل شوي پرې سوزیږم
خپل ایثار او شجاعت مې راته غم شو
د سرو وینو په دریاب کې لاهو کیږم
بس دی نوردې زه( پردېس ) آشنایي نه کړم
ای نفاقه ستا له سیمې نه باریږم
۱۳۷۵\۱۲\۲۵کوئټه پاکستان

## عزل

په لمنه د عظمت کې ټوکیدلی
پاڼې پاڼې دې جهان کې ریژیدلی
ګمراه نه دی خو دعصر ګمراهانو
دحسد اورکې مدام دی سوځولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مکان کې یې ځای نشته دریغه دریغه
خو سینې لا په قفس کې خپل ساتلی
د دنیا تصویر تزویر ورته ښکاریږي
په آینه کې د ماضي یې ځان لیدلی
متاع نه لري غني په قناعت دی
په اخلاص کې دې مقام ته رسیدلی
زیب زینت یې د اسلام غیږکې پیدا کړ
لکه ستوری تورو شپو کې ځلیدلی
امید نه لري بنده نه طامع نه دی
خو الله ته په قیام کې دریدلی
ای ( پردېسه ) داد چا شان او صفت دی
په دا ډول چې نن تا موږ ته لیکلی
۱۱۳۸۰\۱۰\۱۷ایران شیراز

غزل

څومره بلد شوم له دردونو سره
لاس او ګریوان یم کړاونو سره
که په وطن کې موجنګونه نه وای
چا به هجرت کاوه کورونو سره
زه هم وطن نه لري ګرځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينې د زړه خورم لـه غمونوسره
نن مې ټکل کړی قطر ته ځـمه
لـه ډيـرو ډيرو امــيدونـو سـره
که په قطر کې خدای په کارکړمه زه
بيا به مستي کړم له لوټونو سره
که پيسې ډيرې شوې موټر اخلم
ټې وي دستګاه رنګه فلمونو سره
خير که وطن مې سرو لمبو کې سوزي
زه دي آباد يم دې مـلـکونـه سره
ننګ او غيرت موخـريـدارنـه لـري
برعکس مو وژنـي په بمونو سـره
د غيرتي وطـن نـه ځـم ( پـردېـسـه )
مـاتـو پـښـو مـاتـو لاسـونـو سـره
۱۳۸۱\۳\۱۳عمان

غزل

نه چار بيته نه مصره نه رباعي ده
دا غـزل مـې د نظـر قـدردانـي ده
د خوښۍ نه په جامو کې نه ځايږم
قافله مې د منزل خـواته رهي ده
د ولـس د ښـه نيـکـمرغـه ژوند لـپـاره
منــــل شـوې د افــکـــارو آزادي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر علمي نهضت ته کیږي پـاملـرنـه
د تــورتـم نــه راوتـلــي رڼـایــې ده
د وطن ملي تاریخ کې به یاد ګار شي
چې ویستلې چا دې لارکې مساعي ده
نن زما د زړه بلبل په نغـمـو سر دی
چې ټولنه تشـکـیل شوي عرفـاني ده
اول وایـمـه سـلام په دې مـحـفـل زه
بیامې خیال د ټول افغان حال او ماضي ده
شوم خوشحاله بې سلا راغلم یارانو
چې د پلاره راتـه پاتـې شاعـري ده
د ( پـردېس ) ویـده قلمه راویـښیـږه
دا د څو ورځو دنـیا اخـرفـانـي ده
۱۳۷۴\۱۰\۲۸\کندز

قیامت نامه

توشیح غزل

اسمانونه راغورځیږي
د ژونـدون ګــډه بـاریـږي
فریادونه چیغې سورې
د چا غوږ تـه نـه رسیـږي
غافل مه شئ مرګی حق دی
دا دنـیـا آخـر ورانــیـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــان نــه وي د ســرونــو
د ژونـدون نـاوې وديـږي
نـظـارت د سـترګـه و رو
په حيات کله لـګـيـږي
سحر نـه دی حـقـيقت دی
د الله حــکـــم چـــلـيـــږي
تـاريـکـي تــوره تـيـاره وي
مور لـه ځـويه نه خـبـريـږي
اسرافـيـل وايــي سنــدرې
څوک ژوندي نـه پاتې کيږي
نظر خپل مــکـان تـغـيـرکا
چې پرې ځان نـه ليدل کيږي
۱۳۷۹\۱۱\۱۲\عشق آباد
نوټ\ د پورتنۍ توشيح نه دافغانستان ښکلي کلمه راوځي

## زنده ګي

زنـده ګــي د غـم ډګــر دی
ټول عـالم په چـغـو سر دی
چې يې عقل په شـهــوتـو
غــلــبــه و کـا هـنـــردی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شهوت په عقل بــرشي
د انسـان جامه کې خــردی
که حـریص د سپینو سرووي
د قــارون پـــه لارو سـردی
چې یې مرګ په یاد کې نشته
په ژونـدن کلـه بـاور دی
په ګُوم زړه به فراغت کړو
د دنــیا مـیـنـه خـطـر دی
دې رندو خلـکو تـه ګـوره
پلار مقتول قاتـل پسـر دی
ای (پردېسه) ډیر احتیاط کړه
چې د مخکې لوی سفردی

## غزل

چې د عشق په ډیوه زړه دچارڼا شي
د دنیا راحت به څه کا چې فنـا شي
د دنیا مینـه د دُن په تـغـرپـریـږدی
د هرچا چې د زړګي سترګې بینا شي
حـقـیقي مـینـه دنـیـا سره بـدي ده
دغه کار ته که په زرو یو رضـاشي
کسرنـشـته پـه سیـرت د کـامـلانـو
دغه اصل ته که فکر د کوم چاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د عشق په سفر تللي پسې درومې
سلسلې دي څوک ړومبی څوک یې ترشا شي
زه ( پردېس ) چې د الله په ذات عاشق یم
څه به کړمه دا ټوپن کـه ټول زمـا شي
۱۳۷۸\۴\۵\پېښور

تورہ لړۍ
دوران د چـــور او د غـارت راغـی
په افـغـانانو جوړ قـیامت راغـی
د تنظیمـو د لاسه خوار یو مور
قسم دی سوي په انګار یو مور
ډیررنګا رنګ ظلمونه کیږي دلته
انسان څاروي په شان خرڅیږي دلته
تـرک و تـاجک و هـزاره يـــــادیـږو
چېرته ښکاره چېرته خفیه یادیږو
د نژادي فسـا د جـنګونـه ګوره
قاتل مقتـول پکښې زرګونه ګوره
اور د تبعیـض راکې لمبې وهي
فـریاد فریـاد خلـک نارې وهي
بلا د ویــرې او د ډار دیـره ده
هم په صحرا او هم پـه ښار دیره ده
افغانستان ته مصیـبت راغـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوران د چور او د غـارت راغی
یو خوا مطلقه جهالـت دی دلته
بل خوا جاري منـافقت دی دلته
احساس د کار او مسوولیت نشته
ستر جهالت دی حکومت نشته
مالدار د مال څخه بېزار ګوره
قرار تقبیح ترجیح فرار ګـوره
د اختـتـاف کـارونـه کـیـږي دلـتـه
مال د اولاد سره ورکـیـږي دلـتـه
ډیر دي ظـلـمـونه بېشمـار راکـې
زنـا فـحــشـا هـزار هـزار راکـې
توره تـیـاره مـو په وطـن راغـلې
د هـر افـغـان پـه تن بدن راغـلې
وایي( پردېس ) چې بد حالت راغی
دوران د چـور او د غـارت راغی
۱۳۸۰\۱۱\۱۵\کندز

توشیح غزل
زار ، زار مه ځه دزړه سره ودرېږه ته
زما فرش درته بانه دي پرې راځه ته
یاس دمیني مې په زړه ایښي داغونه
په هجران مې د وصلت مه کړوه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیابت د ښکلـو راکړې لـویه خدایـه
مـا مـنزل تـه د نــیــکـانـو رسـوه تـه
امانت مې د خیانت ډګرکې ورک شو
دې میدان نه مې په تیښته تښتوه ته
لهب ګوره د نفسونـو امـان غـواړه
پکې نه کړې ځان دټول عمر لمبه ته
عـاقبت به تــورو خاوروته وردرومې
ځان ته جوړه کـړه په دې دنیا توښه ته
امامت د اجتمـاع بصیرت غـواړي
ځان په حال د نالـیدلو خبروه تـه
بې همته ژوند ژوندون نه دی نیستي ده
په همت کې د ژوند او ګوره مزه ته
دارایـې د دې دنـیا نـه پـکـاریږي
ځان له داسې بلاه ګانو خلاصوه ته
یارانې د مطلب سرته نـه رسیږي
راشه لوله د ژوندي تاریخ کیسه ته
ناصیح واوره داکلام نژدې رانه شې
نصیحت دې اثر نه کړي مه راځه ته
پرون ځای زما جنت و نن دوزخ دی
دغـه بـحث راسره نورمه اوږده وه ته
رسـوایې ده د حجاب پردې پریوتي
فتنې ډیرې شوې دځان پرده کوه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویشي له بادشاهي نه ګڼم غوره
داخبره په غور واوره ښه پخه ته
یغما مه کوه په ډاګه راته وایه
دغه ژوند راباندې نورمه ترخه وه ته
سیرت اوګوره د تېر عالم( پردېسه )
چې په حال کې دعالم نه شې مثله ته
۱۳۸۲\۲\۱۲\ کندز، سه درک

د پورتنی توشیح غزل نه زما دشهید پلار زین العابدین (پردیس) نوم راوځی

توشیح غزل

سالکان د رسالت په دې سما
راته وایې داژوندون دی بې وفا
بې همته رجال ژرکوي غدر
داسې خلکو سره مه دریږه ترخوا
حلاوت د دولت نه غواړي عاقل
په ترخوکې دې خواږه موندلي چا
اتکاء د ابلیس نه غواړم په ژوند
زه اولاد یم د آدم او د هوا
نادمان دحسرت لمبوکې سوزي
ستر ګوره ترینه اخله انتبا
ابابیلو په سر ووهل فیلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کمزوري خپل مـکان کې توانا
لحاظ نه کومه ګـورمه هـرڅـه
ما ونه لیده دنـیا کــې څـه بـقـا
لفظ د میني په مجاز کې لـتهوم
مینه ښـه ده حقیقي په دې دنیا
هـجـران نـه دی مرګ وصلت دی ازلي
چې دخاورو جوړېدن شي خاورې بیا
شهامت د (عمر) راکړې خـالـقه
شقاوت د (لهب) نه غواړم له تا
فاتحه د نـیکو غــواړمـه مـدام
ای (پردېسه) دا دعا ده تل زما
قواعد دقضاء سخت دې مرتشي
ژربه اوګورې دستر واکمن قضا
۱۳۸۶\۱\۱\ کندز، سه درک

دپورتنۍ توشیح نه زمادګران دوست سبحان الله (شفق) نوم راوځي

دغم لړۍ
دنیا کې څومره غم دی
زما غـم څومـره کـم دی
پــه سرو سترګو ژړیږو
د غـم ســره خــتـمــیږو
د سرو وینو طوفـان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحشت کړی میلان دی
درد یـــې پـــه آدم دی
دنیا کې ځومره غم دی
مـیـنـه مـحـبـت نشـتـه
رحم شـفـقـت نـشـتـه
امن سو کالـي دلـتـه
نشته خوشحالي دلته
په چیغو سر عالم دی
دنیاکې ځومره غم دی
دغـه بـې وفـا دنـیـا
پاتې له هر چا دنـیـا
جـــونـګـــړه د ژړا ده
د غـــم سـره پـیـدا ده
په هر کور کې ماتم دی
دنیا کې ځومره غم دی
(پردېسه ) پردېسي ده
د عـلـم بـې وسـي ده
چې غم سره اشنـا یم
د غـــم سـنـدرې وایـم
د ژوندون آخر قدم دی
دنیا کې ځومره غم دی
زما غم ځومره کم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳۷۵\۱۱\۱۱ کوئټه
## عرفات پردېس

روژه
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
ای د غفران او سیادت میاشتې
ته د نفسونو تزکیه یې ګرانې
د ولسو میاشتو کې ویږه یې ګرانې
زه درنه ځار شم دعبرت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
نن د په مینه زه لمانځنه کوم
ستا د عالي شرف ساتنه کوم
ما دي منلی ماهیت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
کاشکې د صلحې پیغامونه راوړې
د نوي ژوند نوي رازونه راوړې
ورته لرو ډیر ضرورت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
ډیر در کې ګورمه جنګونه کوي
ته یې ترې پاتې نور کارونه کوي
د دوی به څه شي عاقبت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې روش ډېر خفه کېږمه زه
د مسلمان په حال ځورېږمه زه
ډېر مې راټیټ شو شهامت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
ستا په حضورکې چې انسان ځورېږي
په خاصه توګه چې افغان ځورېږي
راباندې جوړشي قیامت میاشتې
ای د رحمت او مغفرت میاشتې
وايي ( پردېس ) له دې دنیا به ځم
بلې ماوا ته خامخا به ځم
چې بیا مې وکړی شفاعت میاشې
ای د رحمت او مغفرت میاشې
۱۳۸۲-۸-۲۷- چاردره
عرفات پردېس

آشنا

په وینو سرو ولمبیدمه آشنا
ستا په لمن کې پریو تمه آشنا
ټوټې ټوټې جسد مې چاراټول کړ
زه خو په ځان نه پوهیدمه آشنا
د بې وسۍ اوښکې د تللی په مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حال چې تا لیدمه آشنا
د ابراهیم منشور قانون دی زما
د اسماعیل مقام ته ځمه آشنا
په دې دنیا که مې حاصل نه کړې
په بل جهان کې دې گټمه آشنا
په پاکه مینه د(پردېس) مې قسم
لکه( عمر ) دې بدلومه آشنا
کندز
۱۲-۸-۱۳۸۲

ستوری

د شنه آسمان نه یو زرین ستوری
راغی راپریوتو د ځمکې لورته
زمونږ د کلي ښنګ کې
په یوه لوړه باندې
د غم ښپې راغلې
خوښي یې ویوړه زمونږ
یو نا معلومه لورته
د طوفانو نو لورته
خلکو ژړا کوله
تورو تیارو کې ناست وه
چا ګریوانونه شکول
د غم هجرو کې ناست وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې ويـل په چيغو
زمــورږ زرين ستــوری
آ ګل وريـــن ستـــوری
په شنه اسمان کې نشته
په دې جهان کې نشته
۱۳۸۶\۲\۱۴

توشيح غزل

نه مې زور شته نه مې زر عاجز انسان يم
کږ ليچو ته د ژوندون پاتې حيران يم
يار مې نشته ياور نه شومه د چا زه
دا چې پاتې په هرځای کې له کاروان يم
اجنبيانو له خـپـل کـوره اواره کـړم
کله يو ځای کله بل ځای سرګردان يم
زور واکانو مې دژوند کړئ کړه تنګه
په تيارو کې محسور شوی دزمان يم
محبت له دغو سيمو هجرت کړی
د نفاق تورو تيارو کې بنديوان يم
نا هيلي مې د ګناه کلي ته بيايې
بې خبره د ړوندو په چم روان يم
د بنګان او جاهلان مې عزيزان دی
ای (پردېسه) شرمنده په ټول جهان يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵-۲-۱۳۸۷

توشیح غزل

سروري د کایناتو چې تا راکړه
تصرف مې دغه ځمکه دا فضا کړه
یو د تورو ختو جوړ خاورین انسان وم
را په برخه د هستي د دې سما کړه
د عدم نه دې آدم کړمه خالقه
په حمکت کې دې اهدا راته هوا کړه
ولایت د زمانې مې شو په برخه
فاتحه د ژوندون شروع په ما کړه
لابد بوخت یم د ابلیس سره جګړه کې
د ایمان توره خو تا لاسو کې راکړه
یزدادي نعمت تما م زما په شان شو
په غنمو به ما ولې مبتدا کړه
قباحت کړم له جنته را بهر زه
رقیبانو مې خندل او ما ژړا کړه
اعتدال نه مومم زه پدې نړۍ کې
استقرار په دی جهت نصیب زما کړه
طوفانو نو د ګناه په سیند لاهو کړم
پاکه خدایه ته مې معاف دغه ګناه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظم ته يې زه ناقص يم کردګاره
د شيطان له د سيسو مې مبرا کړه

۱۳۸۷\۱۲\۲۲
عرفات (پردېس)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**